# اياز داؤدزے

## ژوند او کار

پروفېسر ډاکټر محمد همايون هما



د پښتو د ادبي کاروان يو نوميالے غړے، د پښتو د ادبي نړۍ وړومبے داؤدزے، اياز داؤدزے نن زمونږ تر مينځه نشته. هغه د ځانګړي اسلوب سحر طرازه نثر نګار، د پښتو ريډيائي ډرامې د وړومبي صف ليکونکے په ريډيو کښې وړومبے پښتون صحافي بې ازاره نقاد او د ډېرخوږ پوست شخصيت څښتن ؤ چې مونږ ورته په حقيقت کښې د شلمۍ پېړۍ د پښتو د روښانه ادبي دور يو نابغه وئيلے شو. وړومبے د اياز داؤدزي د ژوند يو لنډه خاکه وړاندې کوو.

ژوند: محمد اياز خان چې په ادبي نړۍ کښې د ايازداؤدزي په نوم پېژندے شو، په **22** جون **1922** د پېښور سره نزدې د شاه عالم سيند په غاړه په چغرمټې نومي کلي کښې پېدا شو. د هغۀ د پلار نوم محمد خان ؤ، همېش خليل په خپله تذکره "پښتانۀ ليکوال" (اول ټوک) کښې ليکلي دي چې اياز د رستم خان نيکۀ په اولاد کښې دے چې د خرشبون په تذکره کښې ئې ذکر راغلے دے. رستم خان اکوزے د کندهار په خواوشا کښې د غوړې مرغۍ وسېدونکے ؤ چې په څۀ وخت کښې پېښور ته راښکته شو او په متې کښې په مستقله توګه ميشته شو. اياز داؤدزي د خپل کلي د جومات نه د زدکړې ابتداء وکړه.

د فقې، تفسير او حديث د ټولو بنيادي کتابونو د لوستو نه پس اياز داؤدزے دنياوي تعليم ته متوجه شو. بي اې ئې د پنجاب يونيورسټۍ نه وکړه او د ايل ايل بي تعليم ئې په باقاعده توګه د سندهـ مدرسة الاسلام لاء کالج کراچۍ نه مکمل کړو. د لسم کولو نه پس هغوي د منشي فاضل او د پښتو آنرز سندونه هم اخستي وو.

اياز داؤدزي په کال **1949** کښې د ريډيو پاکستان پېښور نه د نيوز ټرانسليټر په حېثيت د ملازمت ابتداء وکړه. کراچۍ، حېدراباد، کوئټه او د پنډۍ په ريډيو سټېشنونو کښې ئې کار وکړو. پوړۍ په پوړۍ په بره ختلو او په کال **1982** کښې د دېرشو کالو د ملازمت نه پس ئې د کنټرولر نيوز د عهدې نه پنشن واخستو. د پېشه ورانه مهارت په وجه د ريډيو محکمې **1987** پورې د هغۀ د

صلاحيتونو نه فائده پورته کړه. د ريډيو د درې دېرش کليزه ملازمت په دوران کښې اياز داؤدزي د اسټرېليا نه علاوه د دنيا ټولو براعظمونو ته لاړو. د هغهٔ دغه تګ به د صدر يا د وزيراعظم په جلب کښې ؤ. دغه شان د اقتدار مانۍ او د اقتدار خاوندان ئې د ډېر نزدې نه وليدل او ورسره ئې د شرق او غرب د اولس د اولسي ژوند براه راست مطالعه هم وکړه.

د ريډيو د ملازمت نه چې راوزګار شو نو درې کالو پورې ئې په آئي ايس پي آر (انټر سروسز پبلک ريليشنز) کښې د ريسرچ افسر په منصب کار وکړو او دغلته نه ئې د پريس ريويو په نامه يوه مجله جاري کړه.

په **1990** کښې ئې په فرنټيئر پوسټ کښې د نيوز روم انچارج او د ادارتي صفحې د ايډيټر په حېثيت وظيفه ترسره کړه او بيا کال **1991** نه **31** جولائي **2006**ء پورې په کشمير ميډيا سروس کښې د سينئير ايډيټر په عهده کار وکړو. د ايازداؤدزي د دغې شتمن پښه ورانه ژوند عکسونه د هغهٔ په ليک کښې ځرګند دي.

د پښتو د نومورې دانشور چې سرکار ورته د هغهٔ د ادبي خدماتو په اعتراف کښې د پرائډ آف پرفارمنس تمغه ورکړې وه. په **28** جون **2008** د شپږ اتيا کالو په عمر کښې په حق ورسېدو او هم په هغه ورځ د خپل کلي "اصحاب بابا" په اديره کښې خاورو ته وسپارلے شو.

ادبي کار: اياز داؤدزے شاعر، نقاد، ډرامه نګار او محقق دے. په دې ټولو حېثيتونو کښې چې هغهٔ څومره ليکونه کړي دي هغه د نصابي او رسمي انداز نه بېخي جدا د بيان د اظهار يو ځانګړے خوند لري. هغه د خپل وخت د يادې مجلې ((قند)) پوخ قلمي مرستيال ؤ او د قند په هره ګڼه کښې د هغهٔ درنو علمي او فکري ليکونو د مجلې ارزښت زيات کړے دے. د اياز داؤدزي په قند کښې په غزل، افسانه او ډرامه د بې شانه ارزښتناکو ليکونو نه علاوه، ((فن او فنکار)) او ((په ځان تنقيد)) غوندې ناوياته مضمونونه هم چاپ دي. د خپل وخت نورو مشهورو مجلو خپلواک، دوران، رهبر، لار، ګلستان (کوئټه) او اباسين (کراچي) هم د ايازداؤدزي د ادبي صلاحيتونو نه استفاده کړې ده او د هغهٔ بې شمېره علمي او تنقيدي ليکونه د دغې مجلو په پاڼو خوارهٔ دي.

اياز داؤدزي په انګرېزي ادب هم ژور نظر لرلو. د ريډيو د خبرونو د شعبې سره د يو اوږد تړون په وجه به ئې ډېره خوږه انګريزي ليکله. نو ځکه په انګرېزۍ کښې ئې هم ډېر علمي ليکونه کړي دي چې د ورځپاڼې "ډان" او "پاکستان ټائمز" په پاڼو خوارهٔ دي.

ادبي هڅې: ادبي هڅې د اياز داؤدزي په **858** مخونو خور يو دروند ادبي دستاويز دے. دا کتاب په کال **2002** کښې ما ترتيب کړے ؤ. د خپلو مندرجاتو، درون علمي او فکري مقام په وجه ادبي هڅې يو لوړ تاريخي حېثيت لري. د نثري فنپارو په دې مجموعه کښې زمونږ د پښتو د ادبي نړۍ د کم او زيات د تېرو شپېتو کالو د ادبي سفر د مختلفو ګُټ پېرونو، پړاوونو او منزلونو د يو ذهين ليکونکي د ذاتي تجربو، د خورې ورې مطالعې او ژورې مشاهدې يو واقعاتي روداد خوندي دے.

دا د پښتو جديد ادب يو داسې ګويانه تاريخ دے چې په کښې د روانو وختونو د پښتو ادب سره

تړلي د علمي او فکري مسئلو د سترو ادبي شخصياتو د ادبي کارونو، د لويو قلمکارانو د شعري او نثري کاوشونو د ډاډګيرنې او د تنقيد د يو منفرد اسلوب نمونې راغونډې کړې شوې دي او دا هر څۀ د تحقيق، تنقيد، تاريخ او د تخليقي اصنافو په حقله بنيادي معلومات په داسې ډول کښې وړاندې کوي چې هغه بېخي يو غېر رسمي او د دغې رنګ د معلوماتو د پېشکش د روايتي او سپور انداز نه جدا ښېل او د لېکونکي ايجاد کړے يو مخصوص طرز دے. د اياز داؤدزي ليکونو ته دا منفرد اسلوب د هغۀ د مشرقي او مغربي ادب ژورې مطالعې، بې پناه ذهانت، د ژبو په تاريخي پس منظر پوهې او د ټکو د موقعې او موضوع مطابق د مناسب استعمال په فن ښۀ پوره دسترس او عبور ورکړے دے.

ادبي هڅې په پښتو کښې د نثر پارو يوه داسې مجموعه ده چې په هغې کښې د پښتو د يو ستر اديب ليکلي شوي کم او زيات ټولې نثريې راغونډې کړې شوې دي. په دې لحاظ مونږ ادبي هڅې ته په پښتو کښې د نثر وړومبے (د کال **2002** پورې) کليات وئيلے شو.

ښکلا: د اياز داؤدزي د رېډيائي ډرامو مجموعه ښکلا د ليکونکي د فکري ښائست يوه داسې ناوياته هنداره ده چې د هغۀ د نورو ليکونو په رنګ په دې کښې هم د هغۀ د ځانګړي اسلوب او د رومان خوښي فطرت ښائسته رنګونه کۀ ذهن ته د فکر بلنه ورکوي نو سکون هم بخښي. په کال **1935** کښې چې کله په پېښور کښې د آل انډيا رېډيو د يوې څانګې د پښتو نشرياتو ابتداء وکړه نو دې سره سم په پېښور کښې د رېډيو ډرامو سر ولګېدو او د رېډيو سره تړلي ليکونکو په رېډيائي ډرامو ليکلو ګوتې پورې کړې او د پښتو ډرامې په دغه وړومبنو ورځو کښې عبدالکريم مظلوم، امير حمزه خان شينواري، داؤد شاه برق او سمندر خان سمندر د رېډيو دپاره ډرامې وليکلې. د رېډيو د دويم دور په ليکونکو کښې شوکت الله خان اکبر، سېد رسول رسا، اجمل خټک، رضا مهمندي، مېجر ايس اې رحمان او د ښکلا مصنف اياز داؤدزے شامل دي. په دې مجموعه کښې د شاعر خوب، ښکلا، ښادي خان ببو او خَولَه(رض) په نوم څلور ډرامې راغلې دي. د شاعر خوب کۀ هر څو يو تخيليه (Fantasy) ده خو په دې کښې د پښتو د ادبي تاريخ د لوړ فکره شاعرانو د لوړو افکارو په وجه د حقيقت رنګ ښۀ جوت دے. په ښکلا کښې حسن و عشق د ژوند د دوامي ښائست بنيادي توکي ګرځولي شوي دي او داسې دا ډرامه سره د خپلو تخيلاتو د رنګونو د ژوند حقيقتونو ته نژدې ښکاري. ښادي خان او ببو د پښتو د اولسي قيصو د رومان يوه اثري نمونه ده او خوله(رض) ډرامه ده چې په نثر کښې د يو نثري EPIC خوند لري نو ځکه مونږ وئيلے شو چې د رېډيائي ډرامو دا مجموعه "ښکلا" د خپل ادبي ښائست د فني ښکلا او د رومان رنګه مقصديت په وجه ياد ساتلے شي. "ښکلا" په کال **2007**ء کښې ايازداؤدزي په خپله ترتيب کړې او چاپ کړې ده.

د ځلا خطونه: ځلا د قمر راهي شعري مجموعه ده خو د **656** مخونو د دې کتاب په **495** مخونو د اياز داؤدزي **154** علمي خطونه خوارۀدي. دا خطونه د قمر راهي په ځلا کښې د راغلې شاعرۍ په تجزياتي مطالعه اړانه دي. ايازداؤدزے د ګرانې نه ګرانه ادبي نکته، مسئله يا خبره په ساده، اسانه او روانه ژبه کښې د بيانولو حېرانونکے مهارت لري. د

هغهٔ د تنقيدي ستائينو خپل يو رنګ دے، د هغهٔ په ذهن کښې د مشرقي او مغربي ادبياتو د مطالعې نه کشيد کړې لويه پنګه خوندي وه او د موقعې سره سم د هغې د اظهار يو فطري استعداد ئې هم لرلو. د ځلا د شاعرۍ په تجزياتي مطالعه کښې هغهٔ د خپلو واړو صلاحيتونو نه کار اخستے دے او په خپل سېلابي روان، بهاند نثر کښې ئې د ځلا د هر نظم يو مرکزي خيال د بنيادي فکر د موضوع د فني پېشکش او په تېره تېره د شاعر د کلام د مغرب د بې شانه ترقي يافته ماحول او ژبې د شاعرانو د افکارو سره کومه تقابلي جائزه اخستې ده نو دا په پښتو کښې د خپل نوعيت يوه نوې تجربه وه او کۀ څوک غواړي نو د دې ناوياته تجرباتي هڅې نه د خپل ظرف او استعداد مطابق ذهني رڼا اخستے شي. ځلا په کال 2002 کښې چاپ شوے دے او د دې ترتيب و تدوين هم د راقم الحروف دے.

پښتو آنرزګائيډ: په کال 1949 کښې چې کله اياز داؤدزي د پښتو آنرز امتحان ورکولو نو په دغه موده کښې هغهٔ په 198 مخونو مشتمل پښتو آنرز ګائيډ ترتيب کړو چې په کښې ئې د دغې سطحې د هغې وخت د امتحاني پرچو د سوالونو په ډېره اسانه او روانه ژبه کښې جوابونه وليکل. د دې نه پرته په دې ګائيډ کښې د پښتو آنرز په نصاب کښې شامل د هر کتاب زړۀ پورې تبصره هم شامله ده. د دې کتاب په ابتدائيه کښې ايازداؤدزي ليکلي دي چې د پښتو آنرز د امتحان د اميدوارانو دپاره دا زما دريم کوشش دے. د دې نه اګاهو ما د قصص الانبياء نثر چې د پاکو نبيانو د ژوند د حکايتونو اختصار دے او د کال 1945 د حل شده پرچې په نامه دوه کتابونه د خپلې طالب علمۍ په وخت کښې شائع کړي وو. د ايازداؤدزي دغه دواړه ذکر شوي کاوشونه زمونږ تر لاسونو نۀ دي رارسېدلي.

پښتو آنرز ګائيډ په کال 1949 کښې منظور عام کتب خانه قصه خوانۍ بازار پېښور له اړخه چاپ شوے دے او د بره پرې محمد اياز خان بي اې منشي فاضل آنرز ان پشتو ليکلي شوي دي.

خوبونه او خيالونه: دا منظومه ډائري د ذيلي سر خط سره د ايازداؤدزي 534 قطعاتو او رباعياتو چې هغه ورته څلوريځې وائي يوه قلمي مجموعه ده. دا څلوربځې ايازداؤدزي د خپلې اوږدې ناجوړتيا په دوران کښې ليکلې دي. د دې څلوربځو د ليک ابتداء هغه په لسم مۍ 2007 کړې وه او په لسم جولائي 2007 کښې ئې سر ته ورسولې.

د څلوريځو شاعري د اياز داؤدزي د تخليقي ذهن ناوياته نمونه ده چې هغه په کښې د خپلو تجربو او د ژوند د يادګاري لمحو ځلنده عکسونه په ډېره هنرمندۍ منعکس کړي دي.

شاعري: د ايازداؤدزي د شعرونو يوه قلمي نسخه چې د هغهٔ مشر ورور خدائے بخښلي جان محمد زلمي د ځان سره محفوظه کړې وه، ناچاپه پرته ده. د خپلې شاعرۍ په حقله هغهٔ همېشه وئيل چې دا زۀ د ځان دپاره کوم او په معروفو معنو کښې ئې چرې ځان ته شاعر نۀ دے وئيلے. د دې کسر نفسۍ باوجود د اياز داؤدزي غزل او نظم دواړه د فن په کنډه ښۀ پوره دي. هغه د عقل وخرد نه زيات د وجدان په کرشمه سازۍ يقين لري. ځکه چې د هغهٔ په خيال د فنکار تخليقي جذبې ته د هغهٔ وجداني قوت تحريک ورکوي نو ځکه د هغهٔ په شاعرۍ کښې هغه ټول رنګونه بيا موندے شي کوم چې د يو درون بين شاعر د جذبو او محسوساتو د ښائست ترجماني کوي.

وروستۍ خبرې: ایازداؤدزے نن زمونږ ترمنځه نشته. د پښتو ادب د منظر نامې نه د هغۀ په شان د یو جینئیس په دائمي توګه په شا کېدل یوه غټه المیه ده خو د هغۀ په شان عالمان او پوهان چې ټول عمر ئې رڼاګانې وېشلې وي تل د خپلو مینه والو په یادونو کښې ژوندي وي. ایاز داؤدزے چې د پښتو د ادبي نړۍ یو ستر دانشور او د شلمې پېړۍ د روښانه ادبي دور یو نومیالے نمائنده ؤ، د هغۀ لیکونه به مونږ ته رڼاګانې رابخښي او دا به هغه همېشه دپاره ژوندے ساتي.